# ډله ایيزه کډوالي

*سیدپښتون پښتون*



بهرنیوهېوادونو ته دافغانانو پر له پسې ډله ییزمهاجرت په اوس مهال کې یوه لویه  ډله جوړوي چې اروپا او نورو هېوادونو ته د ورغلو کډوالو شمېره  لا پسې لوړوي. دا موضوع په خپل وار سره د کډوالو د پلوي او مخالفو غورځنګونو او ګوندونو په تودو بحثونو اوښتې ده او د دوی تر منځ یې د سیاسي تضاد کچه لا لوړه کړې ده.

 په داسې حال کې چې حکومتونه او وګړي د کډوالو له یرغل سره دښه  چلند هڅې کوي، په کور دننه د دوی د ریښتینې او فرضي شمېرې موضوع په سیاسي وسیلې اوښتې ده. یو شمېر هېوادونو خپل قوانین لا پسې سخت کړل او خپلې پولې یې وتړلې، په داسې حال کې چې ځینې نور بیا داسې نه کوي.

 المان چې په لومړي سر کې یې کډوالو ته ښه راغلاست ووایه، اوس یې ډېر سخت دریځ غوره کړی او وایي هغه کډوال به چې د پناه غوښتنه یې و نه منل شي وباسي.



د ډله ایيزې کډوالۍ ستر لاملونو ناسم امنیتي او اقتصادي وضعیت او له راتلونکې څخه دځوانانو ناهیلي ده،چې ډېری وخت د همدغه عناصرو له کبله ډله ډله ځوانان هېواد پرېږدي او بهرنیو هېوادونو ته ځي.

د اوسني بحث مرکزي عنصر دادی چې آیا هغه پناه غوښتونکي چې اوس راځي، له کورنۍ جګړی راتښتي او که اقتصادي کډوال دي. داسې څوک نشته چې ووایي زه یوازې د نا امنۍ او یا هم د ژوندانه یا ښه ژوندانه د  فرصت په لټون پسې ځم.

یوشمېر ځوانان ددې له پاره بهر ته ځي چې د حالاتو د لا خرابېدو په صورت کې دکورنۍ لپاره ترې د یوې تکیې په توګه کار واخیستل شي. ده حیرانتیا خبره نده؛ د افغانانو مشر نسل له ۱۹۷۳ کاله تر اوسه پورې د ۹ رژیمونو د بدلون شاهد دی چې له ډېرو سره یې تاوتریخوالی ملګری و.

د کډوالو ترمنځ ډېر ځوانان شته چې د افغانستان د هر ډول بیارغونې لپاره ډېره مهمه سرچینه ده. خو ځوانان په دې نه پوهیږي چې بهرنیو هېوادونوته به د سفرپه ترڅ کې له څه ډول ستونزو سره مخامخېږي.

ټول افغانان نه پوهېږي چې په بهرنیو هېوادونوکې پرې څه تېرېږي لکه مرګ،وهل ډبول،بندتېرول او داسی نور. موږ داسې فکر کو چې دوی نه پوهېږي چې په اروپا او نورو هېوادونو کې دوی ته څه شی انتظار کوي. دا چې دوی نه شي کولای سمدلاسه پناه ترلاسه کړې، په هر هېواد کې قوانین بېل بېل دي، تر هغه چې ددوی د پناه غوښتنلیک څېړل کېږي کار نه شې کولای او نه په کوم لوی اپارتمان کې ځای ورکول کېږي. دوی ته باید په رېښتینې توګه وویل شي چې څه ته سترګې په لاره وه اوسي څو وروسته بیا خپله پرېکړه وکړي.

له یو هېواد څخه د ځوان نسل تښته په اصل کې د یوې سترې معنوي سرمایې تیښته ده او هر هېواد هڅه کوي چې دغه ځوان کاري ځواک په خپله ګټه وکاروي او ځان ته یې جذب کړي انساني سرمایه د اقتصادي پرمختګ ستر لامل بلل کېږي او د دغې سرمایې تېښته د انساني ځواک له تشې سره مخامخ کوي او په لنډ مهال او اوږد مهال کې د هېواد لپاره ناوړه پایلې رامنځ ته کوي
.

یو شمېر هېوادونه د خپلې ځوانې انرژۍ له مهاجرته کړیږي او نه شي کولای چې دغه انساني ځواک وساتي افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې له دغې سترې ننګونې سره مخ دی دغه هېواد چې اوس د بیارغونې په حال کې دی تر نورو ډېر ځوان کاري ځواک ته اړتیا لري .

د ۲۰۱۵ کال په ورستیو کې ګڼو افغانانو اروپايي هېوادونو ته مخه کړه چې یوه لویه برخه یې افغان ځوانان جوړوي له دې سره افغان دولت یوه ستره مادي او معنوي سرمایه له لاسه ورکړه .

که څه هم په لومړي سر کې افغان دولت و نشو کړای چې د خپلو ځوانانو د تېښتې مخه و نیسي خو اوس دغه هېواد هڅه کوي چې د ځوانانو د تېښتې مخنیوی وکړ ي او په دغه برخه کې یې د پام وړ ګامونه اخیستي دي .

افغان دولت لاس په کار دی ، چې اوس له راستنیدونو وروسته د کډوالۍ له ظرفیتونو او د دوی له نویو تجربو، مهارتونو او نوښتوتونو څخه چې دوی یې په کډوالۍ کې ترلاسه کړي د کډوالۍ د اقتصادي فرصتونو په توګه کار واخلي .

ګڼ شمېر کډوال په یوشمېر پرمختللو هېوادونو کې په لوړو زده کړو بوخت دي ، له فني او حرفوي زده کړو برخمن شوي ، بیلابیلې تجربې یې ترلاسه کړي ، په نوي تکنالوژۍ سمبال شوي او د نویو فکرونو خاوندان دي، دغه ځوانان د افغانستان لپاره یوه ستره بشري پانګه بلل کېږي .

یو شمېر هېوادونه هڅه کوي چې د کډوالۍ له دا ډول ظرفیتونو ګټه پورته کړي او د دوی د بېرته ستنولو لارې چارې برابرې او له دغه انساني ځواک څخه د هېواد د بیارغونې او پرمختګ په ګټه کار واخلي.

هندوستان، چین، جنوبي کوریاو یوشمېر نور هېوادونو د خپل پرمختګ لپاره له دغه فرصت څخه ستره ګټه پورته کړې د دغو هېوادونو ځوانان له خپلو هېوادونو سره په علمي ، کلتوري او نور برخو کې د اړیکو د ټینګولو له لارې ډېرې ګټې رسولي همدارنګه دغه ځوان خپلو هېوادونو ته په بېرت ګرځیدو سره له خپلو ظرفیتونو او تجاربو ستره ګټه پورته کړې .

افغانستان هم یو له هغو هېوادونو څخه دی چې ډېری کډوال یې په بهرنیو هېوادونو کې په بېلابېلو برخو کې زده کړې او تجربې ترلاسه کړې د نورو هېوادونو ترڅنګ په پاکستان او ایران کې چې زمونږ ګڼ شمېر افغانان مېشت دي دوې د دغو دوو هېوادونو

په پوهنتونونو کې لوړې زده کړې کړي ، ځوانان دغلته پر نوي تکنالوژۍ سمبال شوي او دې ته ورته نورې زده کړې او تجربې یې ترلاسه کړي.

د ۲۰۰۱ کال راهیسې د ۶ میلیونه راستنو شویو کډوالو له ډلې څخه اکثرا یې په دولتي ادارو کې په لوړو پوستونو کې په دندو بوخت دي او د دولت او خصوصي سکتور د کارکوونکو یوه عمده برخه په ځانګړې ډول د تکنالوژۍ او ای ټي په برخو کې هغه ځوانان دي چې په پاکستان او ایران کې یې زده کړې کړي .




د دوې له راتګ سره تر یوه حده د ظرفیتونو تشه ډکه شوې او ډېر ښه ظرفیتونه د افغانستان په دولتي او خصوصي ادارو کې په دندو بوخت دي .

ماخذونه


١- بي بي سي پښتو ویب پاڼه ، کډوالي ، په پاکستان کې د افغان کډوالو وضعیت ، غبرګولي ۱۱ مه ، ۱۳۹۵

۲- دکډوالو چارو وزارت، عودت مجله، ۱۳۹۷ کال ،۸ مه ګڼه.

۳- د توماس رویتیک لیکنه، تاندویب پاڼه.

۴- *www.tolafghan.com*